دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه
«دګرګوري آر کاپلي  ليکنه»

ژباړونکی عزيزاحمد خوارمل

# دامريکايی طرحی اشواکيدل ، وحکومت ته دطالبانودځواکونوبيرته راتګ!

په واشينګټن ډي سي کې دنړيوال استراتيژيکومطالعاتوداتحادی ريس وويل :په نږدی راتلوونکی کې دافغانستان څخه دامريکايی ځواکونود وتلو طرحه اودطالبانوبيرته راتګ ترکار لاندی نيول سوی دی او اوسمهال واشينګټن دطالبانوسره دخبراتروپه حال کې دی :

«دالکترونکی بولتن څيړونکی » ګرګووري آر کاپلي  خاص  اومهمی څيړنی په دفاعی اوبهرنۍ چاروکې لري د(DFASA) په يوی مهمی اوخاص  رپوټ کې وليکل  :« دافغانستان څخه دامريکا دځواکونودوتلومخ ته ترمخه پړاو پيل سويدی » ،دامريکايی طرحی اشواکيدل ، وحکومت ته دطالب ځواکونوبيرته راتګ ،امريکا ددی هيواد «افغانستان »څخه دخپل ځواکونوپه وتلويې لاس پوری کړی دی .

دژورناليستانواوخبرليکوونکوديوی رپوټ پربنسټ ،ګرګاري کاپلی Gregory Copley چې په واشينګټن ډي سي کې دنړيوال استراتيژيکومطالعاتوداتحادی ريس دی اوهمدارنګه کاپلی  په «دفاعی اوبهرنۍ چارو »کې دخپرونومديرمسؤول اودنړيوال اطلاعاتی سيسټم (جي آي اس) دنده هم په غاړه لري چې يونړيواله شبکه ده کوم چې اطلاعات  او اونلاين درمز له طريقه  څخه ترلاسه کوی  اوروان استراتيژيک اطلاعات د دولت و اک ته يې  ورکوي . دی په همدی ډول سره « وراتلونکی ته دسازمان ورکولواولوری ورکولوسره، نړيوالی موسيسی  » بنسټ ايښدونکی اوددی نړيوالی موسيسی مدير هم دی  چې دغه موسسه  په خپل ذات کې داستراليا  يوه تکړه پرمخ تللی انستيتوت  داستراتيژيکوڅيړنوپه باره کې دی .

دګرګوری آرکاپلی په قلم  دغه مقاله چې د «دفاعی اوبهرنۍ چارو » په اړه د۲۰۰۹ زيږديزکال داګست دمياشتی پر څوارلسمه (۱۴)  نيټه دجمعی پرورځ و ليکل سو،په دی مقالی کې داهسی ليکل سوی دی :

« دامريکا جمهور ريس باراک اوبامادافغانستان څخه دخپلوځواکونودايستلواووتلو لمړنی سياسي ګامونه يې پورته کړی دی  اوپه دی اړه اوددی هيواد دټولوځواکونودوتلواصلی عوامل دافغانستان څخه ديوکال په ترځ کې ترخپل نظر لاندی لري  .

په کابل کې دجګپوړوچارواکودموثقوخبرواوويلوپربنسټ باندی ،دغه خبراتری دسعودی عربستان په ملاتړ سره دافغانستان دجمهور ريس « حامد کرزی »اودطالبانودمشر«ملامحمد عمر»  ترمنځ   ډير پخوادباراک اوباما دجمهور رياست دټول ټاکنومخکې پيل سوی وي .

واشينګټن دا اوسمهال  دملا محمد عمر ترمشری لاندی دطالبانوډلی سره په مستقيمو خبراتروبوخت دی . که څه هم چې دافغانستان پارلمانی ټول ټاکنۍ په دوه زره لسم (۲۰۱۰) زيږديزکال کې ډيرمهم اودپاملرنی وړبلل کيږی  ،اما ددی يادشويو خبراتروپای ته رسيدل ويوی دوه اړخيزی بنسټيزی  موافقی ته دجمهوری رياست دټاکنو د(۲۰۰۹)زيږديزکال داګست دمياشتی د(۲۰) شلمی نيټی څخه مخته دسپينی ماښی لخوايوعاجل اړتيا کڼل کيږی .په زړه پوری خودادی  ،داهسی نه ليدل کيږی  چې دامريکا ددفاع وزارت ددی کړنلاری په جوړه ولی کې په احتياط سره ډير اغيزناکه اوپه خپله  اوباما اود هغه ټيم په سپينه ماڼی کې رول ولري ، دا داهسی يووضعيت دی چې دهغه موخی دتضمين اجرا اوعملی کيدل دپرخپل وخت دسياست ټاکل «دبريالتوب اعلان اوبيرته وکورته راتګ» په پايله کې ودولت ته ګټه

رسه ول ديوى بريالى چانس څخه چې دكنګرى دمنځنۍ ټول ټاكنو مخكې په (۲۰۱۰) زيږديز كال كې ترسره كيږى،ګټل كيدى سي .
داوسمهال ترهغه ځاى چې دامريكا په دفاع وزارت پورى اړه لري ،واشينګټن تراوسه پورى دخپلوځواكونو دغښتلتياپه ړاوكى دبرياوودلاسته راوړلو دپاره په افغانستان كې دى اودهغه بربنډه نښى اونښانى پربنسټ ،سپينه مانۍ دخپل لړليد دښه والى اوعملى كيدوپه خاطر دطالبانوسره په خبراتروكې دخپل دغه يرغل دغښتلوالى په حال كې هم دى .همدارنګه دامريكا دولت همدا اوس ديوى كړنلارى داجرا اوتنظيم په لټه كې دى چې دپاكستان پردولت باندى ډېر زورواچوى اوپاكستانى واكداران كلك اوټينګ ونيسى ترڅو ددى موخى په منلوسره اسلام آباد بيله كوم چون اوچرا څخه دسپينى مانۍ د دستورونوڅخه پيروى وكړى ،اوله دى لړليد څخه سرغړونه ونكړى ،اوايا كه دغه دستورونه په افغانستان كې دامن اوآرمتيا دپاره اوكه په پاكستان كې دسولى اودامنيت دپاره چې اوږدمهاله ګټى شميرل كيږى ،كه يې تضمينه وي اويا يې نه تضمينه وى نوپاكستان دى هرومرو غاړه ورته كيښيښږدى .
ددى مهمو كړنلاروڅخه يو يې هم دپاكستان ددولت دناانډول توب ساتنه ده، په اړه دسپينى مانۍ په ملاتړ سره ديوى رپوټ خپريدل وو هغه داچې دپاكستان آتومي اوهستوى وسليواوتسليحاتو ته داسلامى وسلوالو ډلودلاس رسى په وړاندى مسله ده چې دهغه جملى څخه طالبان ،اسيب پذيره ښهى اودغه مسله هم ددى مهموكړنلارودجملى څخه دى .
"ريچارډ هالبروک" د"بيل كلينتۍن" ددولت دجګپوړوچارواكوڅخه اودسپينى مانۍ داستازى په توګه دافغانستان اوپاكستان په موضوعاتواومسايلو كې ،ددى مانورونوهم ږغى اوسمبالونكى دى .
هالبورک دنده لري اودى بايد په دى هكله ډاډمن سي چې هم افغانستان اوهم پاكستان داهسى يوتړون لاس ليک كړى چې دجګړى پاى ته رسيدل اوپه هغه كې د(طالبانوضد ائتلاف) بريالتوب اودافغانستان څخه دامريكا دځواكونو دكيدونكى ګړندى وتلونه چې بيله وروستى پايلو څخه دى ،خبرى وكړى .
نو بيله كوم شک اوترديده څخه دسعودى عربستان دخپل خاص اوبنسټيزرول په لوبه ولوسره كيدى سي چې ريچارډ هالبروک نوموړى پايلى ترلاسه كړى ،او باراک اوباما دخپل بل ځل ټاكل كيدودپاره دامريكا دجمهور ريس په توګه په (۲۰۱۰) زيږديزكال كې تردى سرليک لاندى دغه چې مسله حياتى ګڼى ، ادامه به وركړى .
دغه امر چې ريچارډهالبروک مخكې تراوباما وسعودى عربستان ته يې سفر وكړ، بى اهميته موضوع نه ده .
هالبروک د(۲۰۰۹) زيږديزكال دمى دمياشتى پر اوه لسمه (۱۷ مه) نيټه باندى وسعودى عربستان ته ولاړ اودسعودى عربستان دباچاملک عبدالله دخوا دتودهركلى سره مخامخ سو، اوكيدى سي چې دا تود هركلى په دى مانا وى چې وملک عبدالله ته ويلى سوى ووچې دهالبروک سره داوباماپيغام سته دى .
شاهزاده "مقرين بن عبدالعزيز" دعربستان داطلاعاتودسازمان ريس دهالبروک اوعبدالله په خبراتروكې ګډون درلود. اودهالبروک دسفر په وروستى شيبوكې داوباما لنډسفر سازماندهى سوى وو.
باراک اوباما د(۲۰۰۹) زيږديزكال دجون دمياشتى پردريمه (۳مه) نيټه باندى وسعودى عربستان ته ولاړ اودملک عبدالله بن عبدالغزيز ال سعودپه كرونده كې دهغه سره په سرى توګه اوپټ ليدنه اوكتنه يې ترسره كړ.
په منځنى ختيځ كې ديوشميرباخبروچارواكوپه حواله ،دسعودى عربستان باچا اودامريكا جمهور ريس داوباما دطرحى په هكله دطالبانودبيرته راتګ په اړه دافغانستان دحكومتى نظام په چوكاټ كې ديوبنسټيز عامل دسرليک په توګه دجګړى دپاى رسولو دپاره چې دافغانستان څخه دامريكا دځواكونو اوسربازانودوتلودپاره لاره هواره كړى ،په دى هكله يې خبراترى ترسره كړى دي . اودعربستان ددى مرستى په وړاندى دامريكا جمهور ريس باراک اوباما هم دعربواواسراييلوترمنځ داخ اوډوب اوخصوصآ داسراييلواوفلسطينيانوترمنځ لانجه اودجګړى دمنځه وړلواودليرى كولودچټک حل اوستونزودمنځه وړلوباندى دعربى نړى دلړليد اودمطلوبوشرايطوپه اړه يې چې مطرح كړى ووپه دى هكله يې ټينګه وعده وكړ اوموافقه ترسره سوه . اوپه رښتيا سره ددى ليدنى اوكتنى يوڅه موده راوروسته داوباما دولت داسراييلوپردولت يې ديواړخيزوامتيازاتوپرپريښودلوباندى زورواچول اوهمدا

رنګه دوه کلنه لاسته راغلی ضرب الاجل ، د سولی توافق یې دتعلیق په حالت کې راوست . دبله خوا څخه ،افغان اوپاکستانی چارواکی ویلی دی چې دسعودی عربستان داطلاعاتودسازمان مسؤولینودامریکا اوطالبانوپه دی اوسنی خبراتروکې ډېرتګره اوفعال سوی دی .ویل کیږی چې شاهزاده مقرین ډېرزیات پټ سفرونه یې پاکستان ته کړی اودطالبانودجګپوړوچارواکوسره یې ډېری لیدنی ،کتنی اوخبراتری یې ترسره کړی دي .

په همدی ډول سره په دی هکله کولای سوچې دمقرین لیدنه اوکتنه ددېر مهمی ډلی داستازوسره د«کویټی دمجاهیدینودشورا» سره دبیلګی په توګه یادکړو او داهسی سوچ کیږی چې دغه « دکویټی دمجاهدینو شورا»په افغانستان کې دجهادینودجګړی اداره کولوپرخپله غاړه باندی لري ،اشاره ورته وکړو. دغه لیدنی اوکتنی لومړنی سیاسی اړیکی نیول ریوټ سوي دي اوالبته چې په غیرمستیقمه توګه دغه لیدنی اوکتنی د امریکا اودطالبانودمشرانوترمنځ وو. اوکولای سوسوچ وکړوچې دپاکستان اطلاعاتی سازمان نه یوازی داچې ددی اړیکونیول څخه پوه او خبردی حتی چې ددوي معلومات اوددی اطلاعاتی سازمان ښه پیژندنه اوشناخت دطالبانودمشرانوڅخه او ددی اړیکودېرمختګ اوهغه خبراتروچې صورت موندلی دی برخه یې په کښې کې اخیسته دی اوګډون یې کړی ده اودغه خبراتری دپاکستان په وسیله پراختیا هم موندلی ده .

یوشمیر سرچینی داطلاعاتوپه نړیوال سیستم کې اوددفاعی اوبهرنیوپه چاروکې کارپوهان داهسی یې ویلی دی :اوسمهال دامریکا ددولت چارواکی دیوشمیرجهادینوسره چې په محلی اصطلاحاتوکې «طالبان » دوي ته ویل کیږی دهغوی سره اړیکی لري .حتی دامریکا دپخوانی جمهور ریس جورج بوش دولت مخته تردی چې د(۲۰۰۹) زیږدیزکال دجنوری په میاشت کې دواک څخه لاس واخلی وطالبانوته دافغانستان په دولت کې درول په ورکولوسره و دی خبری ته راغلاست ویلی وو .

هما غسی چې "اسپنسر آکرمن" په (۲۰۰۸) زیږدیز کال کې داکتوبر دمیاشتی پر(۲۸مه)اته ویشتمه نیټه باندی په یوی مقالی کې لیکلی وو،"ژنرال دیوید پترائیوس چې په روانه اونی کې په افغانستان اوپاکستان کې دامریکا دسیاستونودمخته بیولودنده پرغاړه اخلی ،ددی ایدیا اوپروګرام سره همږغی اوموافق دی .

پترائیوس ورته لړلید اوپروګرام یې دعراق په هیواد کې رامنځته کړ ی ووچې دامریکا زیار دسني مذهبوقبایلوسره داړیکوپه ټینګولواودهغوی په راټولوسره په عراق کې دالقاعدی په وړاندی دجګړی په بهیرکې ښه رول یې ولوبول اودتاوتریخوالی اود اخ اوډوب دکچی په راکښته کولوکې په دی هیواد کې ګټورثابت سول .

جنرال پترائیوس ددی میاشتی په لمړیو ورځوکې په ښکاره توګه دطالبانودډلی دهغوغړوسره چې دبنسټپالنی لږ دریځ لري دهغوی سره دخبراترپربهیرموافقه وکړاوهغه مسایل چې ددی بهیر څخه څرګنده کیږی هغه په لاندی ډول دی :

دافغانستان وحکومتی سیستم ته دطالبانوبیرته راتګ واوسنی بهیرته او ودی واقعیت ته څه ناڅه کومه پاملرنه نه دی سوی چې ډېر شمیر نورفکتورونه به هم په راتلوونکی کال کې په دی هیواد کې دسولی اوثبات دوضعیت په رامنځته کولوکې پرځای او ټاکوونکی اغیزه ولري اوخصوصآ کولای سوچې هغه توجیه پذیره تشویشونه چې د دری ژبی خاوندان اوپه خاصه توګه (اهل تشیع ) ته په افغانستان کې اشاره وکړوچې دپښتنوبل ځل راتګ اورامنځته کیدل بیاسنی مذهبه ډلی دبنسټپالوطالبانوترمشرتابه لاندی ،اوددوي دواک لیدل هغوی یې (اهل تشیع ) یې ډاره ولی اوبیره ولی دی هم دپاملرنی وړ دی .

بل داچې داوباما ددولت عجولانه پریکړه او په کښته کچه کړنلاره په افغانستان کې ددندوپرپایښت اودترسره کیدودنخسي دپوره کیدوپه اړه ،په تقربی ډول سره کولای سو ووایوچې ددی هیواده څخه دناټواود ائتلاف دځواکونوپه وتلوسره په افغانستان کې دخطرناکه ناامنیواو ګډوډیوضامن به وګرځې .

داوباما دولت همدارنګه لکه دبوش دولت چې دخپل واکداری په وروستیومیاشتوکې همدا خبره یې کوله ،اوس اوباما هم داهسی سوچ کوی چې دملا محمد عمر په راضی کولوسره اودطالبانودګډون له طریقه دافغانستان دحکومت په جوړښت کې دالقاعدی څخه به ددی ډلی دبیلیدو اودجلاکیدو سبب به وګرځي اوپه پایلی کې دا به یولوی بریالتوب اولاسته راوړنه دامریکا ددولت دپاره وګڼل سي .

واقعيت خو دا دی چې القاعده ،کابو نورپه کامله توګه په رښتینی ډول سره شته والی نه لري بلکی دایو ټولیز مانا اومفهوم دی چې جهادی اسلامی ډلی په ټوله نړی کې په ښکاره توګه په درنښت ورته ګوری .القاعده دکلمی په رښتین مانا سره یوسازمان نه دی او حتی که ملا محمد عمر هم دافغانستان وحکومتی نظام ته طالبان ورګډ کړی ،القاعده به په خپل حقیقی ډول سره دیوغورځنګ ترسرلیک لاندی پایښت اوادامه ولري .

مهمه مسله چې لا تراوسه هغه نه دی حل سوی ، دشرطونو ډول دي چې داوباما دولت کولای سي وملامحمد عمر ته یې وړاندی کړی اوپه همدی ډول سره دا چې کرزی دکوموشرطونوسره موافقه به وکړی اودهغه دمنلو توان به ولري . یوبله پوښتنه هم دا دی چې ایا غیرپښتون ډلی دافغانستان دجمهوری ریاست دراتلونکی ټول ټاکنونوماندی داکټر عبدالله عبدالله دتاجیک ملیت په استازیتوب اویا دکرزی مرستیال محمدفهیم دجمهوری ریاست دنورونوماندوڅخه اودتاجیک ملیت دپخوانیوجنګ سالارانودجملی څخه دی به دا ومنی اوراضی به سي چې دملامحمد عمر سره دی یوځای په یوه خیمه کښې سره کیښنی اوکه یاخیر ؟.

دپورتنی څوټکو طرح کیدل په دی مانا نه دی چې په خپله پښتانه یوالی لري او یولاس اومتحد دي اوکه نه ؟.

کرزی دیو پښتون په توګه وملا محمد عمر ته دهر ډول واک ورکولوڅخه په تشویش کې دی ،په هم هغه ډول سره دامریکا دویلوپربنسټ دپاکستان ددولت سره په معامله کې ،چې په تیروکالنوکې دپښتانه طالبانوڅخه یې په ښکاره ډول سره ملاتړکوونکی اوسرمنشا وو ،هم په تشویش کې دی .

واقعيت خو دا دی چې په (۱۹۸۰) زیږدیزکال کې په افغانستان کې پښتانه طالبانودجګړی ډګرته راووتل اودافغانستان دښکیلاک په وړاندی دشوروی جمهوریتونوداتحاد سره جګړه پیل سو،اوتر ډېری اندازی پوری دامریکا د(سی ای اي ) دجاسوسی سازمان (دامریکاداطلاعاتودمرکزی اداری – سیا) اود هغه وخت درونالدریګن دامریکاد هیواد دجمهور ریس دپیل پایله وو. اوپه هغه وخت کې واشینګټن د«جنرال ضیاءالحق» دپاکستان دجمهور ریس او«اخترعبدالرحمن ) دپاکستان داطلاعاتودسازمان دمشردغوښتنو سره یې موافقت وکړ . دغه دوی (۲)غوښتنی وي چې جهاد دشوروي پرضد باندی اساساّ داسلامی جهادی ځواکونو لخوا په لمړی سر کې د اسلامی ګونډلخواد «ګلبدین حکمتیار»ترمشری لاندی ، نه دا چې دعادی قبایلی وسلوالولخوادی صورت ونیسی پیل سو .

داسلام آباد بیره اوتشویش دا وو چې که قبایلی ډلی واکمن سي ،نوجهادبه دپاکستان دپښتنواودبلوڅوو سمیوته پراخه سي اورا وبه غزیږی .

دامریکا دوخت دولت دپاکستان ددی څیرنوسره څنګ ته راغی اوموافقه یې وکړ اوپه پایله کې خپلی مالی مرستی یې په خاصه توګه داسلامی ګونډ ومجاهدینوته پیل او ورډېر کړ چې په (۱۹۹۰) نهولس سوه نهویم زیږدیزکالنوکې دغه اسلامی مجاهدین په طالبانوباندی واوښت ،اوبیا دامریکا هیواد خپلی مرستی یې رالږ کړل .اودساړه جګړی په پای ته رسیدوسره امریکا «دبریالیتوب اعلان یې وکړ» اوپه داهسی وخت کې دافغانستان څخه «دخپل کورخواته ولاړه» چې څومیلیونه افغان کډوالویې دپاکستان په هیواد کې پریښودل چې دهغه جملی څخه (دری میلیونه شپږسوه زره - ۳۶۰۰۰۰۰-یې لاتراوسه په پاکستان کې میشته کډوال دی اوهلته ژوند کوی ).

واشینګټن همدارنګه ونه توانیدل چې بیرته راوګرځې ،نو پاکستان یې پرطالبانوباندی دمدیریت کولودپاره یوازی پریښوداودا په داهسی وخت کې وو چې یوډېر شمیر پښتانه دپاکستان دسرحد ولایت په شمالی اولویدیزه برخه کې یې ژوند کاوه ،امریکا دهغه وخت څخه تردا اوسه پوری خپل درول لوبول یې دطالبانودغورځنګ په جوړه ولواورامنځته کولوکې دشوروی پرضد هیر کړی دی ،اوهمدارنګه دپاکستان پیل دملا محمد عمر اودهغه دپلویانوپه استخدام کولوکې په (۱۹۹۰) نهولس نهویم زیږدیزکالنوکې چې موخه یې د افغاستان د سویلی واټ دامنیت تامینولودپاره دیوکمربند په توګه دامریکایی دنل لیکی دجوړه ولو دپروژی دپرمختګ څخه عبارت ووچې دمنځنی اسیاڅخه دعرب وسیندته دنفتواوګاز ودانتقالودپاره ترسره سي ،نوبیا یې پاکستان دطالبانوپه روزنه اوملاتړ باندی ترفشاراوګوت نیونی لاندی ونیول اوملامتول یې .

داوباما دولت ددفاع دوزارت دسیستم په وړاندی اوهم دخپلوهم تړونو هیوادونوپه وړاندی چې دوي

يې دافغانستان وجګړی ته يې راکش کړ ،دوي ته يې اقرار نه دی کړی چې په نظرکې لري ترڅو په افغانستان کې دسولی اوبریالتوب په هکله يوداستان او سناريورامنځته کړی ، بيله کومی پايلی څخه چې دابه دافغانستان دپاره او يا دهند داقيانوس دسيمواوسويلی اسيا دهيوادونودپاره وي ، صرفآ داوباما لاسته ړاوني دخپل سياسي اوکورنۍ موخودپاره دجمهوري رياست دبل ځل دراتلوونکی ټول ټاکنو ددوهم پړوا اودور دجمهوري رياست دڅوکی دپاره ممکن دغه موخه ترسره اوعملی يې کړی .
دا په داهسی حال کې دی چې دامريکا د(ګازری « زردکی » اود«ښلاخ » قمچين )وتاکتيک ته ، دپاکستان ددولت پام نوي وراوښتی دی . د امريکا موخه دادی چې اسلام آباد دی ته واداره کړی ترڅودواشينګټن موخی اوپلانونه ومنی ،عملی اوهغه ترسره کړی .
دامريکا ددفاع دوزارت په کړنلاره اوپروګرام کې پينځه ميليارډه نهه سوه ميليونه (۵۹۰۰۰۰۰۰۰۰) ډالره دپاکستان سره دمرستی دپاره په نظرکې نيول سويدی چې دهغه يوه برخه دامريکا دمرستوپه چوکات کې داسلام آباد دپاره ورکول کيږی ،اودا هغه ګازري (زردکی ) دي . اوښلاخ «قمچين» يې ريچاړډهالبروک په خپل لاس کې نيول دی .
په رښتيا سره ددی رپوټ دخپريدوموخه دپاکستان دهستوی اواټومی تسليحاتواووسليو په اسيب پذيری پوری اړه لري ،چې په همدی علت سره دامريکا دخلکواودکنګری مخالفت کول دپاکستان دملاتړڅخه وو.
دريچاړډ هالبروک زيار اوهاند اودبرياليتوب پيل دصربستان په راکښته کولوکې ديولوی هيواد څخه ديوی کوچنی اوبی واکه هيواد په توګه دبالکان په سيمه کښې دياده ولو وړ دی ،په همدی ډول سره دهغه «دريچاړډهالبروک » دواک ياده ول به دافغانستان اودپاکستان د دوو دولتونودپاره وي . ننه ورځ امريکا پرنورو بهرنۍ هيوادونوباندی دګواښ دپاره چندان ګټوراوکار امد وسايل او ځواک په واک کې نه لري اوداوباما دولت اودامريکا دبهرنيوچارو وزارت ددی حقيقت دلاسته رواړولواو ودی حقيقت ته درسيدودپاره ،دپردی شاته د دولتونوپه بيره ولوسره به لاسه واچوی اوپيل به يې کړی .
دبيلکی په ډول هغه څه چې دختيځې اروپا دپاره مشخص سوی ،دايوحقيقت دی چې امريکا « دنوې نړی په سياسي فضا » کې نه سي کولای چې دخپلو هم تړونه هيوادونو څخه ملاتړ وکړي ،په داهسی حال کې چې روسيې په ګټوره توګه سره ښودلی دی چې دغه کار په غاړه اخيستلای سي . اودغه حقيقت ددی ښکارندوی دی چې امريکا نورواک نه لری اوسرزوری نسی کولای دواک اودسرزوری څخه خلاص سوی دی اويوازی دخپل ترنظرلاندی اوريدونکو په دی باور باندی تکيه لري چې واشينګټن خپله سياسي اراده اوپوځی فيزيکی واک يې دخپل غوښتنودترلاسه کولودپاره دلاسه نه ده ورکړی ده ./

اخيځ دقطره نيوز څخه .